# د ننګرهار تاریخي او فرهنګي سیمو ته کتنه

# An overview of the historical and cultural areas of Nangarhar

Mirwais Rahmani*

**Abstract:**

The main title of this article is overview of the historical and cultural places of Nangarhar. Jalalabad city is one of the historical cities of Afghanistan, which is one of the famous cities due to its greatness and antiquity, which history has proved. Due to its climatic value, it attracted the attention of the leaders of the country during the winter season and would spend the winter here. Jalalabad is a very ancient city and historians have proven it in different eras, here the historical buildings and relics of the time of Buddhism and Kushans are still inherited, which is enough to prove the antiquity and historical tradition, but in the past The officials and officials of the time did not pay attention to these relics and cultural heritage in two years. In other countries that have historical sites and monuments, the country's income is also financed through this method. Competitors from different countries come and visit the historical monuments and sites However, there are more historical monuments and monuments in Afghanistan compared to other countries, but they have not been professionally protected and cared for Nangarhar Province has been called the second canter of Shahs after Kabul in certain stages of history. Nangarhar has many historical places that I will introduce in this article and provide historical information about them.

**Keywords**:Historic areas, places and flowers, Hade Historical Museum,Azlamabad Fort, Shahi Fort, Yasin Baba Shrine

ننګرهار د هېواد د نورو برخو په څېر یوه تاریخي سیمه ده ،چې د زرګونو کلونو تاریخي میراثونه ئې په خپله غېږه کښې پټ ساتلي ،په دې ولایت کښې د بودایانو او ساسانیانو له زمانو رانیولې د روسانو تر یرغله او له هغې راوروسته تاریخي میراثونه پراته دي،ددغو تاریخي میراثونو یوه برخه دننه په جلال اباد ښار کښې پرته ده خود وخت د ناوخوالو ئې د ورکېدو لار پرانستې،په تېرو شلو کالو کښې د ملاحظې وړ کار نه دے شوے

* Ph.D Scholar Pashto Academy University of Peshawar

چې لـه مخـې ئـې دا تـاریخي میراثونـه خونـدي شـوي وي، سربېره پـردې چې پـه تېـرو شـلو کالوکښې ددې فرهنګي اوتاریخي میراثونو د بیـا رغـونې او خوندیتابـه لپـاره پـروژې ترسره شوي دي خو پایلـه ئـې نـۀ ده لرلـې او اړونـده ادارې پـه دې نـه دي توانیـدلي چـې دغـه میراثونـه خوندي کړي . پـه تېـرو شـلو کـالو کښـې دا فرهنګـي تـاریخي میراثونـه ډېـر پـه خپلسـري تو ګـه وسپړل شـول او تـالا شـول اړونـده مسـولینو ددې نـاورین مخنیـوے ونشـوکولے ، پـه دې ولایت کښې ډېري فرهنګي سیمې غصب شوې او لـه تاریخي حېثیتـه وویسـتل شـول،د وخـت نـاکـامو ادارو ددې ارزښتونو د خوندیتابه لپاره هېڅ ونـه شـو کـولې او د لـویې بـې غـورۍ لـه املـه ئـې دغه تاریخي ارزښتونه بې برخلیکه پاتې شول،دننګرهار پـه مرکز او ولسوالیو کښـې لسـګونه تـــاریخي،فرهنګي میراثونـــه شـــته چـــې تـــاریخي عبـــادت ځایونـــه ،ښـــارګوټي ،کلاګانې،هدیرې،کلي ،اثار،خزانې اوتاریخي مانۍ شـتـه دے چـې دتـاریخ بېلابېلـو پړاوونـو تـه اړوند ېږي ،چې پـه دې مقالـه کښې بـه ئې دروپېژنم.

## ځایونه او کلاګانې

### د ننګرهار شاهي مانۍ :

د ننګرهـار شـاهي مـانۍ د امیـر عبـدالرحمن خـان د واکمنـۍ پرمهـال ئـې سـاختماني چارې پېل شوې وې ، چې ډېر پـه معیاري او ښـه شکل سره جوړې شوي دي د ننګرهـار شـاهي مانۍ د امیر عبدالرحمن خان پـه وخت کښې ئې د ساختمان چارې شروع شوې وې ،مګـر ټـول ساختماني کارونه ئې د امیر حبیب الله خـان د زمامـدارۍ پـه دوره کښـې پـاې تـه ورسـېدل. پـه دغه تاریخي ودانـۍ کښـې بـه د امیـر حبیـب الله خـان رسمي او تشریفاتي غونډې پـه خاصـو مراسمو کښې ترسره کېدې او هم ددغې مانۍ پـه شا و خوا کښـې د ګنبدې خونو موجودیت، چې د مانۍ پـه څلورو خواوو کښې ئې قرار درلود ، پـه دغه ګنبدې کښـې مـانیو او خونـو کښـې بـه د امیر حبیب الله خان عـالي رتبـه مـامورین او سـاتونکي ژونـد کـاوۀ . څېړنپـوه محمـد عـالم اسحاق زي د شاهي مانۍ پـه اړه لیکلي دي :

دغـه مـانۍ پـه خـورا ښـۀ شـکل او ډیـزاین جـوړه شـوې ده ، چـې د شـاهانو د عظمـت ښکارندویې کوي ،د مانۍ دننه یو لوے هال د ناستې او مراسمو لپاره چې پـه سر ئې یو سـتره ګنـدبه ، جوړه شوې ده چې د دې هال دننـه پـه ډېـر ښـائسـتـه مینـاتـورس او شـبکـه کـاریو بانـدې

انځور او مزین شوې ده ، چې د هر چا پام ځانته جلبوي. دغه ماڼۍ ډېره پراخه ساحه کښې جوړه شوې ده ،چې ددې بڼ ښېرازتیا او سرسبزۍ ئې د پام وړ او د سېلانیانو زیاته توجو ئې ځانته اړولې ده.دغه تاریخي ماڼۍ د کورنیو جنګونو په دوران کښې زیانمنه شوې وه او ډېرې برخې ئې تخریب شوې وې د وخت والي ګل اغا شیرزي ددې ماڼۍ ترڅنګ په څو جریبه ځمکه کښې یو تفریحي ځاے هم جوړ کړو چې اوس د ګل اغا شیرزي په نوم یادېږي ، چې زیات شمېر ځوانان او مېرمنې ، د سپورټ مینوال هلته ورځي خپلې لوبې او تفریح کوي [1]

خو دغه تاریخي ماڼۍ د تېر جمهوري نظام دملي پراختیا شرکت په ځانګړې بودیجي او مرسته په اساسي ډول ترمیم او پخوانۍ څېره ئې خپله کړه ، په دې ماڼۍ کښې هغه تیرې او خښتې بیا ځل کارول شوې کوم چې په لومړي ځل په کښې کارول شوې وې ترڅو خپل پخواني حالت غوره کړي او تاریخي ارزښت ئې وساتل شي .د دې ماڼۍ ترڅنګ د تېر نظام پخواني والي ګل اغا شیرزي له لوري په شاهي ماڼۍ کښې یو لوے هال هم جوړ شوے چې د وخت چارواکي په کښې خپلې اولسي غونډې او ناستې کوي او ددې ماڼۍ ترڅنګ یو لوے تفریحي پارک هم مسولینو جوړ کړے چې ځوانان په کښې خپل وخت او تفریح کوي .

## سراج العمارت او امیر شهید بڼ

د سراج العمارت بڼ په دې وروستیو دوه دریو کالونو کښې د جلال اباد ښار والۍ لوري رغول شوے ، بېلابېلې تفریحي او د ماشومانو د لوبو سامانونه په کښې ځاے په ځاے شوي چې هره ورځ مازدیګر او په ځانګړو ورځو او اخترونو کښې ځوانان او کورنۍ پکښې راټولېږي او خپل تفریح کوي ، په دې بڼ کښې په اخترونو ، نوي کال ،د خپلواکۍ او نورو ځانګړو ورځو کښې ځانګړې تفریحي مېلې ترسره کېږي چې ،د هیواد له بېلابېلو ولایتونو نه ورته ځوانان او کورنۍ راځي او خپل څو شېبې په خوښۍ سره تېروي . دا بڼ د جلال اباد ښار په مېنځ کښې د ننګرهار ولایت مقام ترڅنګ موقعیت لري ، دا بڼ د امیر حبیب الله خان په واکمنۍ کښې جوړ شوے دے ،په دې بڼ کښې یوه ښکلې تاریخي ودانۍ هم شته چې یو مهال دا ودانۍ سوځول شوې وه ، خو په ورستۍ لسیزه کښې د وخت د والي ګل اغا شیرزي په هڅو د ننګرهار اطلاعات او کولتور ریاست لخوا رغول شوې ده .

د سراج العمارت بڼ ته مخامخ د شاه غازي امان الله خان مقبره ده چې دې بڼ ته د امیر شهید بڼ وائي دا بڼ د امیر حبیب الله د واکمنۍ پرمهال جوړ شوے دے ، په دې بڼ

کښې يو تاريخي ستر جومات دے د جومات ترڅنګ د امير حبيب الله خان او اعليحضرت شاه غازي امان الله او د دوي د کورنۍ د يو شمېر غړو مقبرې او د جهادي او سياسي شخصيت شهيد حاجي عبدالقدير مقبره موجود ده ، په دې بڼ کښې ډېر زيات شمېر د نارنجو ونې او رنګارنګ مثمري ونې او د ګلانو بوټي کرل شوي دي ، ډېر خلک جومات ته د المانځه ادا کولو لپاره او د شاه غازي امان الله خان روح ته د دعا لپاره راځي او له دې بڼ نه ليدنه کوي .[2]

د ادب په پراختيا او پرمختيا کښې تاريخي ځايونه خپل رول او ځانګړے اغيز لرل شي چې اديبان ئې په خپلو ليکنو او شعرونو کښې تر ډېره ځاے کړے دے،پښتني مېرمنو په ټپو او لنډيو کښې د تاريخي ځايونو يادونه کړې چې دلته ئې نمونه ذکر کوو.

پيره بابا په ډاګ ئې وله
په تا تېرېږي دېوانه بابا له ځينه
راځئ چې واچوو ټالونه د مملې باغ په چنارو کښې
جوړه جوړه به وځانګو نه د مملې باغ په چنارو کښې

په پورته بيت کښې د ننګرهار يو شاعر هلال کړه وال چې د مملې باغ ته ورغلے او هلته ئې مېلې کړې او د چينارونو له سېوري ئې خوند اخيستے نو خپلې محبوبې ته ئې د شعر په ژبه بلنه ورکړې چې د مملې باغ په چينارو کښې ورسره يوځاے وځانګي چې دا هم په پښتو ادب او شاعري د تاريخي سيمو د اغېز يوه ښکاره بېلګه په سلګونه داسې بېلګي لرو.

**مملې (نملې) باغ**

د مملې باغ په ۱۶۱۷ ميلادي کال د مغلي شاه جهان پاچا له خوا په سل جريبه ځمکه کښې جوړ شوے دے په دې بڼ کښې د ۴۰۰ کالو چينارونه ولاړ دي.دغه بڼ د حبيب الله خان په وخت کښې د هغه کورنۍ لپاره يوه ډېره په زړۀ پورې تفريحګاه وه. په دې باغ کښې يوه ډېره چې د باغ جوړېدو تاريخ په دې ليکل شوے وۀ د انګرېزانو لخوا ورل شوې ده. په دې باغ کښې د شاه جهان باچا له خوا يو تعمير هم جوړ شوے وۀ چې په خپل منځي جګړو کښې ورته ډېر زيان اوښتے وۀ خو د يوې خيريه موسسې لخوا ئې د ترميم او بيا رغونې چارې ئې تر سره شوې .

په دې بڼ کښې يو سړک چې ۸ متره سور او ۳۵ متره ئې اوږدوالے دے. ددې تر څنګ يو ډنډ هم جوړ شوے ، په دې بڼ کښې ذينتي ونې او ګلان موجود دي چې د سېلانيانو خاصه پاملرنه ئې ځانته راړولې ده. ځينې څېړونکي وائي ، چې ددې باغ جوړېدل د شاه جهان په وخت کښې پېل شو او بيا د دارا شکوه د پاچاهۍ په وخت بشپړ شوي ځکه چې دغه باغ کښې يو وخت داسې ليکنه موجود وه په دې باغ کښې يو درې پوړيزه ماڼۍ هم موجوده وه چې اثار ئې پاتې دي. د مملې باغ په اړه ويل کېږي چې دا باغ شاه جهان پاچا جوړ کړے او خپلې لور (نملې) نوم ئې پرې کېښود چې وروسته د مملې باغ په نوم شهرت وموندۀ ،خو تردې زيات په کتابونو کښې د مملې باغ په اړه مې نور معلومات ترلاسه نکړۀ ، که د نملې موقعيت په اړه وويل شي، نو نمله په اصل کښې يو کلے دے، چې د جلال اباد ښار د جنوب لويديځ په ۳۶ کيلو ميترۍ کښې د ختيز طول البلد په ۲۰ درجو ۶ دقيقو او ۵ ثانيو او د شمالي عرض البلد ۳۴ متره مربع ساحه رانيسي، چې د سلو جريبو ساحت څخه عبارت دے.[3]

د جغرافيوي موقعيت له مخې دا باغ د خوګيانو په ناوه کښې د سپين غر په ښکتني لمنه کښې موقعيت لري او د کابل ، ننګرهار پخوانۍ لويه لاره ئې نزدې برخې څخه تېرېدله او يا عبارت د کابل او د هند نيمې قاري د کاروان لارې په سر پروت دے او د مخه يوه اوچه دښته کښې ئې موقعيت درلود ، چې خلکو په کښې استوګنه درلوده.

**دهډې تاريخي موزيم**

د هډې موزيم د هېواد له مهمو تاريخي او کلتوري اثارو څخه وۀ، چې تر ۱۳۵۹ کال هجري لمريز کال پورې د پخواپه څېرجوړ وۀ،خو له دې نېټې وروسته په هېواد کښې د کورنۍ جګړې په پېل سره نوموړي موزيم ويجاړ او ډېر تاريخي اثار ئې لوټ شول،د هډې موزيم د جلال اباد ښار په جنوب ته ۸ کيلومتره څېرمه د هډې په سيمه کښې واقع دے ،خو اوس يوازې د دې موزيم ورانې ويجاړې سمڅې تر سترګو کېږي.

د جلا ل اباد ښار سهېل لور ته يو پراخه تاريخي ځاے د هډې د موزيم په نامه شته چې دغه سيمه د تاريخ پوهانو په وينا نزدې ۲۵۰۰ کاله له ميلاد څخه تر مخه تاريخي مخينه لري

استاد محمد داود وفا په خپل کتاب کښې د هډې موزيم په اړه ليکلي دي چې ،د هډې موزيم تر ۱۳۵۹ کاله پورې په خپل عادي حالت وۀ د پرديو د يرغل په پايله کښې دسيمې

استوګن جګړې ته اړ شول چې په ۱۳۵۹ لمریز کال د دوبي په تودوخه جګړې هم تودې شوې ځو راکټه په موزیم راوغورځېدل او موزیم شاوخوا ونو او بوټو اور واخیست،چې دولت خبر شو د اور مړ کولو لپاره ئې د اور وژنې ځو موټره راولېږل او اور چې په دننه موزیم کښې لګېدلے وۀ د اوبو ټانګرې ئې ورته مخامخ کړې او د موزیم یوه برخه پرې ختمه شوه .په اور یوازې یو شمېر لرګي ، دروازې او کړکۍ سوې وې او د ګچواو چونې نالیږدو بُتانو ته ئې تاوان نه وۀ ور اړولے ،خو چې اوبۀ ور ورسېدې هرڅه ختمه شول او راولوېدل،په دې توګه د بې پروایۍ له امله د موزیم یوه برخه خاورې شوه ،د ۱۳۵۹ نه تر ۱۳۶۰ کلونو کښې بیا جګړې تودې شوې پاتې ښېښې او لوښي په مرد کیو ولګېدل او سیمه د دولت له واکه ووته ، تر دې وروسته کله دولتي ځواکونواو کله مخالفو ځواکونو د دغه ځاے واک ونیوۀ چې په دې ترڅ کښې یوه برخه مات او ځیني لوټ شول. 4

لیکوال او ژورنالیست نقیب احمد اتل چې د هډې کلي اوسیدونکے دے د هډې په اړه وائي : دا سیمه چې وه ، دا د کندهار مرکز بلل کېدۀ ،دا د بودایزم ستر مرکز وۀ،د پاکستان اوسني حسن ابدال نه رانیولې د سوات ، شانګلې ،وزیرستان دغه نورې سیمې په کښې راځي ددې ټولومرکز وۀ، په دې غونډۍ کښې موزیم اونورتاریخي اثار وو دغه اثار د جهادي ډلود واکمنۍ پرمهال دسیمه ییزو قوماندانانو لخوا لوټ اوګاونډیواو بهرنیو هېوادونو ته ولېږدول شول. 5

په ننګرهار کښې د خراسان خصوصي پوهنتون استاد او ننګرهار اطلاعات او فرهنګ پخواني رئیس اورنګ صمیم د هډې موزیم له منځه تلل په کلتورې برخه کښې یوه لویه تشه بولي او وائي چې ډکول ئې ناشوني دي ،هغه وائي. د خپل ریاست پرمهال مې د ننګرهار د ټولو تاریخي اثارو څخه په کلکه څارنه کړې ، د غېر قانوني کېندنو او قاچاق مخینوے ئې کړے دے او په وروستیو کالونو کښې ئې ترې د احاطې دیوال هم چاپېره کړے. 6

دغو تاریخي سیمو ته د کورنیو لیدونکو سربېره دلته بهرني سېلانیان هم راتلل او له دې موزیم نه به ئې لیدنه کوله اتل چې په دې اړه له خپلو مشرانو کیسې اورېدلې وائي : مونږ ته خپلو مشرانو کیسې کولې چې یو مهال چې دا موزیم فعال وۀ،بهرنیانو لپاره پنځوس افغانۍاو کورنیوسېلانیانو لپاره ټکټ لس افغانۍ وۀ.له هرې سیمې ورته سېلانیان را روان وول .

لرغون پوهان وائي، د اطلاعات او کلتور وزارت مسولین دې په هېواد او په ځانګړې توګه د ننګرهار تاريخي او فرهنګي ابداتو په ساتنه وۀ بيا رغونه کښې دې چې کامونه پورته کړي .

**د درونټې داشوکا ډبرليک**

په افغانستان کښې تاريخي او فرهنګي نخښې اوس هم شته چې د تېرو تاريخونو او تمدنونو کيسې کوي ،دا تاريخي او فرهنګي نخښې ،ډبرليکونه دي چې لرغون پوهان ئې په خپلو اثارو کښې يو يو پېژندلي دې ،چې ويل کېږي لومړني ډبرليک د لغمان په النګار کښې يادوي دويم هغه ئې د لغمان او ننګرهار ترمنځ د درونټې په غرونو کښې موندل شوي او يوازې څو کرښې ئې پاتي دي ،او په دې ډبر ليک د اشوکا فرمانونه کښل شوي چې د حېواناتو د وژنې د مخينوي او نور ذکر په کښې راغلے دے .

پوهاند رازقي نړيوال په خپل کتاب د ننګرهار لرغونې سيمې او تاريخي اثار کښې د درونټې د اشوکا ډبرليک په اړه ليکلي دي : اشوکا چې د خپلې واکمنۍ په سيمو کښې کومې کتبې نقل کړې دي يوه ئې د درونټې په سيمه کښې يوه کتبه ده چې په ارامي ژبه ليکلې شوې ده . دا ډبرليک چې د اشوکا د اخلاقي فرمانونو له مخې خورا مهم ډبرليک دے کومې کرښې چې ترې باقي پاتې دي هغه د حېواناتو له وژلو څخه دمخينوي په اړه دي، ډبرليک مثلث وزمه شکل لري او اوس د کابل په موزيم کښې شته.[7]

داچې درونټې دا ډبرليک د درونټې په کومه برخه کښې موجود وۀ ، په دې اړه تراوسه پورې دليکوالو لاس ته کوم مدارک نه دي ورغلي چې په دې اړه توضيحي معلومات وړاندې شي ،بايد وويل شي چې دا ډبرليک د کابل موزيم ته راوړل شوے دے خو په درونټه کښې ئې څرګند ځاے معلوم نه دے .

**د سبزاباد غونډۍ**

د سبز اباد غونډۍ چې د جلال اباد ښار اوومې ناحيې اړوند د کابل جلال اباد دعمومي لارې تر څېرمه د شنو ګروندو او سبزاباد کلي په منځ کښې موقعيت لري ،دغه غونډۍ د بودايزم دورې پورې تړاو لري چې د هماغې دورې ځيني اثار هم په کښې موندل شوي دي . دننګرهار اطلاعات او کلتور رياست د تاريخي ابداتو او موزيم مسول احمدشاه عمري وائي چې د سبز اباد غونډۍ د کوشانيانواو بودايزم پير پورې تړاو لري ، هغه وائي چې دغه سيمه له ډېر پخوا تثبيت شوې وه چې تاريخي اثار په کښې شتون لري خو د مسلکي ټيم سروے ته په تمه ول

چې بیا د ۱۳۹۷ کال د میزان میاشتي په ۱۷ نېټه پرې د مسلکي او فني کارمندانو تر سروې وروسته او د هغوي د لارښوونې په اساس په سرفیز( اوله برخه ) کښې کېندنې پیل شوې چې په کښې د بودایزم ،اسلامي پیر او کوشانیانودورې نخښې نښانې وموندل شوې . په دغه غونډۍ کښې دوه کاله مسلکي کېندنې وشوې چې په کښې ۲۹۸ قلمه تاریخي اثار ترلاسه شوي دي چې په هغه کښې سیکې ،وارۀ بُتان،سپین کاني،غمي ،قابګیر، سراغ، ګوتمې،سربیکان (تیره)فلزي توکي ،فلزي مېخونه ،مهر او ګڼ تیرې چې تراوسه ورته علمي نومونه نه دي کشف شوي.[8]

**دشهید سخي سرور غونډۍ :**

د شهید سخي سرور غونډۍ چې اوس د کوز سلطانپور (سلطانپور سفلي) د چینو د غونډۍ په نامه هم یادېږي، د سره رود ولسوالۍ بازار ته نزدې چینو (لال چشمه ها ) ته مخامخ موقعیت لري، ددې سیمې د مشرانو په وینا دا غونډۍ د امیر حبیب الله د واکمنۍ پر مهال جوړه شوې او له دې وړاندې ئې شتون نه درلود .

د امیر حبیب الله خان په وخت کښې دغه غونډۍ د خلکو د ګډ کار په پایله کښې جوړه شوې چې خلکو په ډېر عادي مزد دلته کار کاوۀ، د غونډۍ یوه لوري ته د سخي سرور په نامه یو شهید له پخوا راسې دفن شوې، دغونډۍ د جوړولو په وخت کښې دا مقبره یو څه ترتیب شوه چې تر اوسه ئې هم اثار پاتې دي. د غونډۍ او چینو ترمنځ یوه ویاله شتون لري چې اوس هم پکښې د چینو اوبۀ بهېږي. ددې ویالې ترڅنګ یوه بله مقبره وه چې خلکو دشهیدبابا په نامه یادوله، دا چې له دې سیمو څخه خاورې د غونډۍ جوړولو لپاره پورته کېدلې نو دلته د شته قبرونو د ورانېدو ترڅنګ ددې مقبرې د ورانولو هڅه هم وشوه خو وتوانېدل، حتٰی تر دې چې خپله امیر شهید ماشین ته کښېناست او دمقبرې ورانولو هڅه ئې وکړه، مګر هغه هم بریالے نشو او ماشین ئې بند شو. له دې وروسته ئې پریکړه وکړه چې دلته باید زیارت جوړ شي چې دا زیارت اوس هم شتون لري .

د سلطانپور کلي مشر اول ګل خاکسار د غونډۍ د جوړولو موخه ددې سیمې لپاره د یو تفریحي ځاے جوړول ګڼي، نوموړے وائي چې د غونډۍ په سر یوه اواره چوتره ده چې هلته به خلک لمر ته کښېناستل. هغه مهال د غونډۍ شاوخوا کورونه، نه وو، کوم خلک به چې دلیرې ځایونو څخه دلته د مېلو لپاره راغلل نو د دې سیمې د سېل لپاره د غونډۍ سرته

پورته کېدل او له هغه ځایه به ئې ددې سیمې ننداره کوله خو په عادي وختونو کښې به ددې سیمې خلک او د ولسوالۍ مامورین لمر ته په ساعتونو ساعتونو په دې ځاے کښې کیناستل ،نوموړے زیاتوي : زمونږ مشر خواجه زمان چې پخوا وفات شوے، ترې مې اورېدلي چې دا غونډۍ د امیر شهید په وخت کښې جوړه شوې، هغه ماته ټوله کیسه کړې چې ددې غونډۍ په جوړولو کښې مونږ د ورځې په یوه ټانګه مزد کار کاوه. دا خاورې مو په خپلو اوږو پورته کړې، دلته ټولې هدیرې وې، دا ځایونه هوار وو او د امیرشهید لخوا دلته غونډۍ جوړه شوه. [9]

د دې شهید په هکله پنځوس کلن ګرچرند سینګ چې د انقلاب د مخه د دې ځاے اوسیدونکے وۀ او اوس ئې کورنۍ په هندوستان کښې ده ، او په جلال آباد ښار کښې دوکانداري کوي، د ځائي مشرانو نظر تائیدوي او د شهید بابا لپاره کوم ځانګړي نوم نه یادوي، دے وائي:زمونږ مشرانو همدومره ویل چې دلته د مسلمانانو یو لوړ شخصیت دفن شوے او د نوم په هکله ئې هېڅ راته نه دي ویل شوي، دا مقبره د شهید بابا په نامه له پخوا نه مشهوره ده او مونږ ئې په همدې نامه پېژنو. [10]

**کوز سلطانپور ( سلطانپور سفلي)**

د ننګرهارد تاریخي سیمو نه یوه هم د کوز سلطانپور دے چې په تاریخي لحاظ ډېر مشهور او دتاریخ په کتابونو کښې یاد شوے دے د کوز سلطانپور دا کلے د سلطان محمود غزنوي په وخت کښې جوړ شوے د سلطان محمود غزنوي په وخت کښې د سلطانپور په نامه دوه کلي دلته جوړ شوي چې یو کوز سلطانپور (سلطانپور سفلي) په خپله سلطان محمود غزنوي او بر سلطانپور (سلطانپور علیا) د سلطان محمود غزنوي د ورور له خوا جوړ شوے دے. مونږ دلته د کوز یا سلطانپور سفلي یادونه کوو. زیات خلک په د ې باور دے چې دغه کلے په دې موخه جوړ شوے چې خلک ټولنیز ژوند ولري او له یو بل سره مرسته وکړي ، هغه وخت خلک یو له بله ډېر لرې اوسېدل د ځناورو خطر هم لیدل کېدۀ، په یواځېتوب کښې د یو کور لپاره ژوند سخت وۀ نو له دې امله دا کلے د ګډ ژوندانه لپاره د غونډۍ په شکل کښې جوړ شو، په دې کلي کښې سلطان محمود غزنوي د ځان لپاره نه کوم کور او نه هم کوم دمه ځاے درلود، یواځې د خلکو د ګډ ژوند لپاره ئې خوارۀ وارۀ خلک راټول کړل او دا کلے ئې ورته جوړ کړو. دا هغه وخت وۀ چې د سره رود ولسوالۍ د مرکز لپاره هم کوم ځانګړے ځاے نه وۀ

ټاکل شوے، د هغه وخت دولتي اداره (ولسوالي یا علاقه داري) په باولیو کښې وه، د سره رود ولسوالۍ په موجوده بازار کښې نه بازار وۀ او نه هم خلک اوسېدل. د خلکو په وسیله د خاورو غونډۍ جوړه شوه، د ګډ او ټولنیز ژوند لپاره په لومړي ځل زمینه برابره شوه، تر دې د مخه خلکو په دومره تعداد کښې شریک ژوند نه درلود. او له دۀ وروسته ب یا سلطانپور علیا، چهارباغ صفا او بالاباغ کلي جوړ شول.[11]

د کوز سلطانپور کلي چې د یوې لوړې غونډۍ د پاسه جوړ دے درې دروازې لري، په هره دروازه کښې یو جومات جوړ شوے چې اوس هم پاتې دے. د کلي دروازې په شرقي، شمالي او جنوبي نومونو یادېږي چې د شرقي دروازې لور ته د کلي دننه یو درمسال هم جوړ شوے وۀ چې اوس ئې یوائې د دېوالونو نخښې پاتې دي او نور په مکمل ډول تخریب شوے دے.

## موي مبارک

د رسول الله صلي الله علیه وسلم د وېښتۀ مبارک په هکله هم د دې سیمې ګڼ مشران پدې نظر دي چې دا وېښتۀ د لومړي ځل لپاره د همدې کلي د یوې کونډې ښځې په کور کښې چې خلکو ته به ئې ډوډۍ پخولې پیدا شو، دا کونډه د سالم خبازانۍ وه وائي چې یوه ورځ کونډه کور ته ننوځي ګوري چې له یوه بوتله رڼائي خورېږي له ده وروسته ئې د کلي مشران او مخور خبر کړل همدا و چې خلک په دې پوې شول چې دا وېښتۀ د رسول الله صلي الله علیه وسلم دے او له دې وروسته دا وېښتۀ په خاص احترام ساتل کېدۀ، بیا وروسته د وخت د قاضي له لوري چې د چهارباغ کلي اوسیدونکے وۀ دا وېښتۀ مبارک ئې خپل کلي چهارباغ ته انتقال کړ او بیا هم د وخت په تېرېدو سره د داؤد خان د صدراعظمۍ پرمهال اوسني موقعیت ته د سړک غاړې موي مبارک جامع جومات ته انتقال شو

د دې کلي یو تن اوسېدونکي معلم محمد حسن چې ځان د خواجه خان کړوسے راپېژني، د خپل نیکۀ له قوله وائي چې: غورنیکۀ ئې خواجه خان د امیرحبیب الله خان فیل وان وۀ خواجه خان په همدې کلي کښې د امیرحبیب الله خان دوه شوخ فیلان چې خاص نومونه ئې درلودل ساتل، د سیمې خلک وائي چې دا فیلان ډېر مست او شوخ وو، بغېر له خواجه خان نه بل چا ئې ساتنه نه شوه کولے، کله به چې امیرحبیب الله خان د راه کلان له لارې په پل پخته باندې د سلطانپور چینو ته راتۀ نو د فیل دپاسه به ناست وۀ او د فیل رسۍ به د

خواجه خان په لاس کښې وه او د فیل وان نه به څو قدمه د مخه یوتن چې معلم صاحب محمد حسن ورته د جارچي کلمه کاروله روان وۀ، له دۀ سره به توره وه او په تګ تګ کښې به ئې په لوړ غږ دا الفاظ تکرارول[12].

د موي مبارک تاریخي بهیر داسې دے چې درسول الله ص د مبارکې ږیرې یو تار وېښتۀ له عراق څخه هند ته، له هغه ځایه بیا پاکستان ته او له هغه ځایه کابل ښار ته وړل شوے. څه مهال په شاه دوشمشېره زیارت کښې ځاے په ځاے وۀ او وروسته له هغې د ننګرهار سره رود ولسوالۍ ته راوړل شو. دلته د نغرکو په کلي کښې د موي مبارک په نامه جومات او زیارت ورته جوړ شو. دا وېښتۀ د داخلي جنګونو پرمهال د دوېم ځل لپاره پاکستان ته یوړل شو او له هغې وروسته ئې درک نه دے څرګند. د زیارت متولیان هم د وېښتۀ د ځاے ځائیګي په اړه له معلوماتو ورکولو ډډه کوي.

**شاهي باغ (غلام حیدر خان باغ)**

شیشم باغ چې د شوو د زیاتو او حتیٰ تولو ونو دلرلو په وجه ورته شیشم باغ وئیل کېدۀ ،د باغدارۍ ، نورتزیني عناصر په کښې موجود نه وو، او امکان لري چې د سیوري درلودلو په وجه دغونډو د جوړېدو ځاے ، شیشم باغ د ښار په ختیزه جنوبي برخه کښې د جلال اباد ـ تورخم واټ جنوب اړخ ته پروت دے . ددې باغ ځانګړنه داده چې ټولې ونې ئې د شوو جګې او ګورې ونې وې په پخوانیو وختونو کښې د مشرقي په سمت مجلوبیند) عسکرۍ ته سوق شوي ځوانان) نورو ولایتونو ته په دې باغ کښې ویشل کیدل."[13]

**ظلم آباد کلا**

د کابل جلال اباد لویې لارې نه لاندې د دروټې په یو کیلو مترۍ سیمه کښې د شنو ونو او پټیو په منځ کښې یوه پخوانۍ کلا ودانه ده چې دې کلا ته د ظلم آباد کلا وائي .د ظلم اباد کلا د ننګرهار په سره رود ولسوالۍ کښې موقعیت لري چې زرګونه کاله لرغونتوب لري او دسیمې د خلکو په وېنا ددې سیمې اوسېدونکي ساکان دي او ددې کلا جوړوونکي دساکانو حاکمان وو .

دا کلا چې په کومه سیمه کښې موقعیت لري، ټوله سیمه اوس د ظلم اباد په نامه یادېږي. ددې سیمې اوسېدونکي محمد طاهر چې (۵۵) کاله عمر لري، وائي چې نیکونو ئې ورته وئیلي وو چې دا کلا څلور سوه کاله وړاندې جوړه شوې وه خو دا هم کره نېټه نۀ ده .دے وائي

نیکۀ مې راته کیسه کوله چې په دې کلا باندې د وخت حاکمانو د ختهو کار کاوۀ، یوه اونۍ به ئې په ختهو غوایان ګرځول او بیا به ئې دیوال ته پورته کولې. په لاره به چې هر څوک تېرېدل، دوي به وربانديې کار کاوۀ. یوه ورځ د لغمان ولایت نه یو هندو په همدې لاره سلطانپور ته روان وۀ چې دوي ورته د کار کولو ووئیل خو هندو ورسره دا خبره ونۀ منله، دوي پرې ټینګار وکړ خو هغه انکار وکړ، ددې کلا حاکم هغه هندو ونیو او په دېوال ئې له پاسه کښېښود او ختهې ئې پرې ووهلې چې بیا له همدې کیسې وروسته دا کلا د ظلم آباد په نوم مشهوره شوه او تر اوسه په دې نوم یادېږي.[14]

دا د جبارخېلو کلا ده، کله چې دوي په دغه کلا کار کاوۀ په خلکو باندې ئې په زوره کارونه کول، چابه چې په کار کښې ناغېرې کوله نو بیا به ئې په دیوال کښېښود او له پاسه به ئې پرې ختهې کښېښودې، ځکه ورته د ظلم آباد کلا وائي.

**د خانخېلو غونډۍ**

د ننګرهار ولایت د نورو سیمو په څېر په ښیوې ولسوالۍ کښې هم تاریخي او فرهنګي ځایونه ډېر دي د دې ولسوالۍ د تاریخي سیمو نه یو هم په دې سیمه کښې د شګې غونډۍ یا د خانخېلو غونډۍ ده چې په سیمه کښې تر ټولو مشهوره غونډۍ بلل کېږي، د دې تاریخي غونډۍ په اړه سید امرالله امید په خپله یوه مقاله کښې چې په ښېګنه مجله کښې خپره شوې لیکلي دي چې د ننګرهار ولایت ښیوې ولسوالۍ د شګې د سمنګ غونډۍ چې د خانخېلو غونډۍ هم ورته وائي په سیمه کښې مشهوره غونډۍ ده ددې غونډۍ په سر یوه غټه ډبره ده چې خلک ئې اوښ بولي او تر خوا ئې ځینې نور کاڼي د انسانانو په نوم نوموي او وائي چې یو وخت د مسلمانانو د وادۀ (ورا) مراسم په دې ځائے تېرېدل، ګوري چې د کافرو لښکر وربانديې را روان دے، د وادۀ خلکو خدائے ته لاسونه پورته کړل او د خپل عزت، حېثیت او عفت د خوندي ساتلو لپاره ئې ورنه غوښتل چې له دوي کاڼي جوړ کړي، هماغه وو چې خدائے ئې سوال قبول کړۀ، کله چې کفار دوي ته رانزدې شول، الله د وادۀ ناوې او له ورا سره روان کسان ټول کاڼي کړل کله چې یو کلیوال دا کیسه کوي دا وخت یو غټ کاڼي ته لاس ونیسي او وائي، د اوښ دے، هغه یو او بل لور ته ئې کجاوې دي، چې یو خوا ته ئې ناوې او بل خواته ئې کومه بله ښځه ده، تر خوا ئې دا ولاړې نېغې تیږې سړے دے، چې په ډولۍ پسې روان وو.[15]

ددغه ځای په اړه ډېر فولکلوریک روایات شته زیارتونه چې ښځې ورته د خپلو مرادونو د ترلاسه کولو په موخه ورځي ، تاریخي ځایونه چې ځوانان او ماشومان ورته په ځانګړو ورځو کښې ورځي او مېلې کوي چې اکثر تفریحي ځایونه په تېرو شلو کالونو کښې د وخت د چارواکو او بهرنیانو له لوري جوړې شوي دي.

**یاسین بابا زیارت**

یاسین بابا زیارت د جلال اباد ښار په دېرش کیلومتره کښې د جلال اباد ښار او ښیوې ولسوالۍ د لویې لارې په اوږدو کښې د شګې په کلي کښې د سړک سره نږدې د ازغو ونو په منځ کښې په شګلنه ځمکه کښې پروت دے ،ددې زیارت اصلي نوم سید یاسین دے ،نوموړے دخپل وخت یو جید عالم او روحاني شخصیت تېر شوے دے اوس او هغه مهال خلکو ورته ډېر درناوي درلود او اوس ئې هم لري ،د ننګرهار ښیوې ولسوالۍ اوسیدونکي لیکوال او څېړونکي سید امرالله امید د یاسین بابا زیارت په اړه وائي چې
یاسین بابا د تاجکستان له کولاب نه نږدې ۳۵۰ کاله وړاندې راغلے چې دوي د کولاب ختلان سادات دے ،دلته د اسلام د خپراوي او تبلیغ په موخه راغلے وۀ، خلیفه بابا د افغانستان سربېره نورو هېوادونو ته هم سفرونه کړي او هلته ئې د اسلام مبارک دین او قران کریم د تدریس تبلیغ ئې کړے او په همدې لاره کښې شهید شوے هم دے دا چې د امیر عبدالرحمن خان تر وخته پورې د نورستان خلک کافر وۀ او دوي په دې سیمه کښې اوسېدل نو د اسلام د خپراوي او د کفارو په وړاندې د جهاد لپاره ئې تبلیغ کاوۀ ترڅو مسلمانان وهڅوي چې د کفارو په وړاندې جهاد وکړي چې تر ډېره بریده بریالي ول او د وي ډېرې غزاګانې دلته کړې دي .[16]

دا یو جید عالم او روحاني شخصیت دے چې زیارت ئې د ښیوې ولسوالۍ په شګې کلي کښې موقعیت لري ،اوس هم ورته خلک د دعا او زیارت لپاره ورځي یاسین بابا چې اصلي نوم ئې سید یاسین دے د سید عبدالنبي کولابي زوے دے چې هغه ته خلیفه بابا ویل کېږي ،چې خلیفه بابا د لغمان په ګمبیرې دښته کښې شهید شوے او هملته دفن دے .

**د سپینې مورګې ډنډونه**

د هیواد نورو سیمو په څېر د ننګرهار په هسکې مېنې ولسوالۍ کښې هم تاریخي او مشهور سیمې شته دے، چې نوموړې ولسوالۍ ته ئې ښکلا او شهرت وربخښلے دے ،چې

له دې مشهورو څخه ئې د سپينې مورګې ډنډونه دي . د سپينې مورګې ډنډونه د برزګې ځوکې ببخ کښې واقع دے، داسې وئيل کېږي چې ، په دغه ځاے کښې بزرګانو او وليانو ناسته کړې ده ،دا ډنډونه دومره پراخه دي چې ځوک ترې ګذار اړولې نشي او ددې ډنډونو اوبۀ دومره يخې دي چې د ځو شېبو لپاره په کښې لاس نشي نيول کېدے ، او چې د چا اولاد نه وي نو دې سيمې ته ورځي پسه ځان سره وړي او هلته ئې حلالوي او خداے نه د اولاد د پيدا کېدو دعا غواړي "[17]

**تور راغه**

د دې ولسوالۍ يوه بله تاريخي سيمه ده چې د هسکې مېنې ولسوالۍ ختيځ لور ته پروت دے او ددې سيمې د مشهور ځايونو څخه شمېرل کېږي او د سيمې خلک ئې په اړه بېلابېل نظريات او روايات لري .دا هغه سيمه ده چېرته چې په ۹۸۵ ه ق کال شا وخوا کښې د پير روښان لښکرو د هند مغلي پوځ لخوا ماتې خوړلې وه او پخپله پير روښان هم په کښې زخمي شوے وۀ [18]

**راجا ډاک**

راجا ډاک چې د هسکې مېنې ولسوالۍ په شمال لويديځ کښې واقع دے ډېر تاريخي ځاے دے ، ويل کېږي چې په دې مشهور ځاے کښې د راجا په نامه يو کس اوسېدۀ او ژوند ئې کاوه چې د ابادۍ نخښې ئې اوس هم هلته شته دے خو نور معلومات ئې په اړه نشته .[19]

**پاپين**

ننګرهار اثارو او ځايونو په درلودلو کښې خورا مشهور او د تمدن ښار بلل کېږي ، د جلال اباد ښار په ګډون په ولسواليو کښې هم د بودايانو، زرداشتيانو د وخت ګڼ تاريخي اثار او سيمې شته دے چې په تېرو جنګونو کښې ئې ډېره برخه ويجاړې شوي دي خو ددغو سيمو نخښې اوس هم شته په دغو ځايونو کښې يو هم د پاپين تاريخي سيمه ده . پاپين سيمه چې د هسکې مېنې ولسوالۍ په لويديځ کښې واقع ده هم ډېره مشهوره ده داسې ويل کېږي چې په پاپين کښې پخوا زوړ ښار او مدنيت ودان او څلور دروازې ئې درلودې کافر غونډۍ هم د پاپين سره نژدې پرته مشوره سيمه ده. [20]

**شيرګړ غونډۍ**

شېرگړغونډۍ د غني خېلو ولسوالۍ په مرکز شیرگړ قریه کښې غني خېلو ولسوالۍ ته د غزېدلي سړک ترڅنگ موقعیت لري ددې غونډۍ او دلته د دې غونډۍ له پاسه د شپږو برجونو درلودونکې مستحکمې کلا په اړه په خلکو کښې بېلابېل روایتونه موجود دي.
د سیمې مشران ، مخور او فرهنگپال ددې غونډۍ د تاریخ په اړه بېلابېل نظرونه لري او وائي چې ، دا تاریخي غونډۍ د شیرشا سوري لخوا هغه مهال جوړه شوې وه چې د بابر د زوي همایون فوځونه د شیرشاه سوري لخوا په باریکاب کښې ماته وخوړه. د دې ولسوالۍ په اړه ویل کېږي چې د مغلو ستر اداري مرکزوو ،نو دلیل دا راوړل کښږي چې کله شیر شاه سوري د همایون فوځونو ته ماتې ورکړه او په تیښته بریالي شو، نو شیرشاه سوري د خپل برم او قوت ښودلو لپاره د شیرگړ د لوېې غونډۍ په سر یوه لویه او قوي د شپږو برجونو درلودونکې کلا جوړه کړه .[21]
د دې ولسوالۍ او نورو سیمو کنټرول له همدې ځایه کیدله ،خو اوس ددې کلا د ځینو برجونو نخښې نښانې ښکاري او نوره کلا له منځه تللې او یا هم غېر مسلکي کېندنې په کښې شوي دي

**د ناکامۍ کلي**

د ننگرهار په نورو سیمو کښې هم ورته سیمې او کلاګانې موجودې دي چې خلک ئې په اړه بېلابېل روایتونه ا و کیسي له ځان سره لري ،د دغو کلاګانو کښې یو هم د ناکامۍ کلے دے ظاهره معلومېږي په دې کلي کښې د پخوانیو زمانو کیسې شته دے،د دې کلي په اړه ویل کېږي چې :
شېرشاه سوري چې کله په جنگونو کښې د مغلو د لوے لښکر په مقابل کښې د جنگ توان د لاسه ورکړ او میدان پریښودلو ته اړ شو نو د غني خېلو ولسوالۍ د شېرگر سیمې په یوه کلي کښې ئې ځان پټ کړ ، څوک ئې په اړه معلومات نه درلود چې شېر شاه سوري چیرې دے .خو کله چې د شېر شاه سوري ملگرو او لښکرو مغلي لښکرې په شاه وتمبولې نو د خپل مشر په لټه شول او په شېرگړ هـ کلي کښې ئې وموندہ ملگرو ئې چې ترې پوښتنه وکړه چې دلته څه کوي؟ نو شېرشاه وویل چې له ناکامه دلته پټ وم ، نو اوس روایت داسې کېږي چې له همدې وروسته دا سیمه د ناکامۍ په کلي مشهور شوې وه اوس هم د ناکامۍ به کلي یادېږي[22].

**دامیر حبیب الله خان تخته گاه**

د غني خېلو په ولسوالۍ کښې د نورو سیمو په څېر تاریخي سیمې او ابدات شته چې ،یو هم په کښې د کاټیلي سیمې زراعتي ځمکو په جنوب ختیځه خواکښې د حبیب الله خان په نامه ځمکه اوس هم د تخت پټي په نامه یادېږي، د سیمې خلک وائي چې .شاه حبیب الله خان د خپل سرشاره عادت له مخې دې سیمې ته راغلے وۀ. د شینوارو مومندو قومي خلک ئې د ښکار لپاره په داسې حال کښې راوغوښتل چې ، له نازیان نه نیولې تر مومندرې ، ګرد ے غوث، دوربابا ولسوالۍ ، اړوند څڅوبي ، ګړوکو او نازیان لنډۍ څخه خلکو یو د بل لاسونه سره نیولي وو په لوړه او ژوره راتلل ، هوسۍ، سوې او نور وحشي حېوانات ټول د خلکو په دې حلقه کښې راګېر شول او ویې نیول، چې بیا نومونړي څه هوسۍ د ځان سره ژوندۍ یوړلې.[23]

## پایله

ننګرهار دهېواد دنورو برخوپه څېریوه تاریخي سیمه ده ،چې د زرګونو کلونوتاریخي میراثونه ئې په خپله غېږه کښې ساتلي ،په دې ولایت کښې دبودایانواو ساسانیانو له زمانو رانیولې دروسانو تر یرغله او له هغې راوروسته تاریخي میراثونه پراته دي،ددغو تاریخي میراثونو یوه برخه دننه په جلال اباد ښار کښې او ډېرې نورې تاریخي او فرهنګي اثار او سیمې ددې ولایت په لریو پرتو ولسوالیو کښې موجودې دي.

د تاریخي او فرهنګي اثارو او ابداتو شتون په ادب او فرهنګ کښې خورا زیات د پام وړاغېز لرلے د ے، فرهنګیان او لیکوالان وائي چې ،ژبه ، ادب او کلتور د یو اولس فرهنګي او تاریخي میراثونه دي او همدارنګه فرهنګي او تاریخي میراثونه بیا د ادب لپاره پانګه او سرمایه ده، یو بل سره تړلي او یو په بل ښکلي دي .

په دغه مقاله کښې د ننګرهار د تاریخی سیمو او اثارو، د ننګرهار شاهي ماڼۍ سراج العمارت ،امیر شهید بڼ مملې (نملې) باغ ،د هډې تاریخي موزیم ،د دروټنې داشو کا ډبرلیک ،د سبزاباد غونډۍ ،د شهید سخي سرور غونډۍ،ظلم آباد کلا،د خانخېلو غونډۍ او نورو ځایونو په اړه د معتبرو منابعو څخه په ګټې اخستنې سره معلومات وړاندې شوي دي.

په دې برخه کښې ګڼو ليکوالو او څېړونکو ګټورې ليکنې کړې دي او د دې سيمې تاريخي اثار او سيمې په تيت او پراګنده ډول په بېلابېلو اثارو کښې پېژندلي دي ،چې زما دغه څېړنه د دې پورته کارونو سره کاملا متفاوته او نوې ده ،هغه داسې چې تراوسه دا ټول تاريخي او فرهنګي اثار د يوې مقالې په چوکاټ کښې نه دي سپړل شوي.

## حوالې

[1]. سرمحقق محمد عالم اسحاقزي، د ننګرهار ټولنيز – فرهنګي جوړښت، کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۹۹ لمريز کال، ۴۰ – ۴۱ مخونه.
[2] همدغه حواله اثر ، ۵۱ مخ.
[3] همدغه حواله اثر ، ۴۳ مخ.
[4]محمد داود وفا ،دننګرهار فرهنګي بهير ته يوه کتنه ،۱۹۹۸ زيږديز کال،دافغانستان د مطالعاتو مرکز ،۱۲مخ
[5]نقيب احمد اتل سره مرکه ،ننګرهار ، ۵ فبروري ۲۰۲۳ زيږديز کال
[6]اورنګ صميم سره مرکه ، ننګرهار ، ۱ فبروري ۲۰۲۳ زيږديز کال
[7]رازقي نړيوال ، د ننګرهار لرغونې سيمې او تاريخي اثار ، بيهقي کتاب خپرولو رياست ، کابل ، ۱۳۸۹ لمريز کال ، ۱۰۰ مخ
[8]احمد شاه عمري سره مرکه، ۱ نومبر ۲۰۲۳ زېږديز کال.
[9]ولسي مشر امام جان سره مرکه ، ۲۱ اکتوبر ۲۰۲۳ زېږديز کال.
[10]ګرچرند سينګ سره مرکه ، ۲۰ اکتوبر ۲۰۲۳ زېږديز کال.
[11].ميرويس رحماني ،دسره رود تاريخي او فرهنګي څېړنه ،ختيځ خپرندويه ټولنه ،۲۰۲۳ زېږديز کال ، ۳۱ مخ
[12]معلم صاحب محمد حسن سره مرکه ، ۲۰ اکتوبر ۲۰۲۳ زېږديز کال.
[13]رازقي نړيوال ، د ننګرهار لرغونې سيمې او تاريخي اثار ، ۱۲۴ مخ
[14]محمد طاهر سره مرکه ، ۱ نومبر ۲۰۲۳ زېږديز کال
[15].سيد امرالله اميد ،ښېګنه مجله ، لومړي کال ، لومړۍ ګڼه ،۱۳۹۳ لمريز کال و ۲۴ مخ .
[16]سيد امرالله اميد سره مرکه . ۲۱ اکتوبر ۲۰۲۳ زېږديز کال.
[17]شيراغا شاکر ،دهسکې مېنې ولسوالۍ فرهنګي بهير څېړنه ، د(ماسترۍ تيزس) ننګرهار پوهنتون،سيشن، ۱۳۹۹ لمريز کال ،۱۸۲مخ .
[18]همدغه حواله ۱۸۲ مخ
[19]همدغه حواله ۱۸۲ مخ
[20]همدغه حواله ۱۸۲ مخ
[21]حسيب الله خاکسار، په معاصره دوره کښې د غني خېلو ولسوالۍ ادبي او فرهنګي څېړنه ،( دماسترۍ

تیزس ناچاپ) ننګرهار پوهنتون ،سیشن ، ۱۳۹۹ لمریز کال ، ۲۳ مخ .

22 همدغه حواله اثر ، ۲۳ مخ .

23 همدغه حواله ۲۶مخ

**References:**

1.Sir Mohaqiq Muhammad Alam Ishaqzai da Nangahar toulaniz-farhangi jorkhat, da Afghanistan da Aloumo Academe 1399 lamriz kal,40-41, makhona

۲. hamdagh hawala,51, makh.

۳ . Sir Mohaqiq Muhammad Alam Ishaqzai da Nangahar toulaniz-farhangi jorkhat,43, makh.

۴ . Mohammad Daud Wafa, da Nangahar farhangi bahir ta yawa katana, Kabul, da Afghanistan mutaliyato Markaz, 1998, meladi kal,12 makh.

۵ .Da Naqib Ahmad Atal Sara Maraca, Nangarhar,2023, meladi, kal.

۶. Da Aurang Samim Sara maraca, Nangahar, 2023, meladi, kal.

۷ . Razqi, Nariwal, da Nangahar larghoni semi aw tarikhi Asar, behqei kitab khparwolo Riasat, Kabul,1389, lamriz, kal,100 makh.

۸ . Da Ahmad Shah Umri, Sara Maraca, Nangarhar,2023, meladi, kal.

۹ .Da Walsi masher imam Jan, Sara maraca, nangarhar,2023 meladi, kal.

۱۰ . Da Garcharand Singh, Sara Maraca Nangahar, 20 October 2023. meladi, kal

۱۱ .Mirwais Rahmani, da Sra Road tarikhi aw farhangi serana, khatiz khparandoya tolana, Nangarhar,2023, meladi, kal,31, makh.

۱۲ .Da Malim Mohmmad Hasan, Sara Maraca, Nangarhar,2023 meladi, kal.

۱۳ .Razqi, Nariwal, da Nangahar larghoni semi aw tarikhi Asar,2023, meladi, kal,124 makh.

۱۴ . Mohmmad Tahir, Sara Maraca,2023, meladi, kal

۱۵ .Said Amarullah Omid, khegana, Mujala, lomary, kal, lomari, gana,1393, lmariz, kal,24, makh.

۱۶.Da Said Amarullah Omid, Sara Maraca,2023, kal.

۱۷ . Shiragha Shakir Da haske Mene walaswali farhangi serana, (mastery Thiess) Nangahar, pohanton, session,1399, lamriz, kal,182, makh.

۱۸ . hamdagha hawala,182, makh.

۱۹ .hamdagha hawala,182, makh.

۲۰ . hamdagha hawala,183, makh.

۲۱ . Hasib Ullah Khaksar, PA Masera dawra key Da Ghani Khel walaswali Adabi aw farhangi Serana, (mastery thiess) Nangahar, pohanton, session ,1399, lmariz, kal,23, makh.

۲۲. hamdagha hawala,23, makh.

۲۳. hamdagha hawala,26, makh